کاظم بیمار ننګرهاری د کابل پوهنتون استاد ۲۰۱۷/۰۵/۳۱

لنډۍ د پښتو په ادب کې

د لنډۍ تعریف او تاریخ:

لنډۍ یا ټپه د پښتو ژبې خاص شعر دی چې په بله هیڅ ژبه کې یې بېلګه نه ده لیدل شوې. لنډۍ یا ټپې د څلور نیم زرو کالو را هیسې د پښتو ژبې په ادبیاتو کې خپل رول لوبولې دی. افغان تاریخ پوه مرحوم کهزاد، لیکي چې; د نړۍ د هیوادونود ژوند تاریخ دوه برخې لري : ۱. د تاریخ د مخه دوره ، ۲. تاریخي دوره.

په افغانستان کې درې دورې دې: دتاریخ د مخه دوره، دویمه د سرودونو دوره چې د ویدي سرودونه یې یوه مهمه بېلګه شمیرل کیږي، او دریمه تاریخي دوره ده. لنډۍ ، ټپې یا مصرۍ د سرودونو د دورې محصول دي.

زمونږ د هیواد او بهرني تاریخ پوهان په دې عقیده دي چې اریا ئیانو به د ویدي سرودونو سره یو ځاي د سوما شربت ډېر استعمالوه. او اریا ئي ځوا نانو به په غرونو کې د سوما د بوټو د لو کولو لپاره د شپې له خوا تلل، نو اریائي نجونو به ورته په سرودونو کې دا لنډۍ ویلې:

سپوږمیه سر وهه را خیژه
یار مې د ګلو لو کوی ګوتې ریبینه
سپوږمیه سر وهه راخیژه
یار مې د غرو مزل کوی تیاره به وینه

همدارنګه تاریخ پوهان په دې عقیده دي چې دغه لنډۍ د اریا ئیانو د لمر پرستۍ دورې پورې اړه لري، ځکه چې د ویدي په دوره کې اریا ئیان زیا تره لمر پرسته وو، او نجونو به کله کله په ناز ځوانا نو ته د ناز ښیرا وې کولې او ویل به یې ، چې ځواني مرګ نشي! یا ځواني مرګه ولې داسې.....کوی؟

نو د ځوا نانو مېندو به د نجونو په ځواب کې د لمر پریوتو په وخت داسې ویل:

ما زدیګری دی ښیري مه کړه
ته به د ناز ښیري کوی رښتیا به شینه

لنډۍ یا ټپې د څلور نیم زرو کلونو راهیسې په شفاهي او کتبي ډول د پښتو او پښتنو په کلتور کې مهم رول لوبولې دی، او د یوه نسل نه بل نسل ته انتقال شویدي.

شعری بڼه یا جوړښت :

لنډۍ یا ټپه هغه شعر دی چې شاعریې معلوم نه دی، هر لیکوال ، شاعر او د احساس خاوند د لنډیو په پراختیا کې برخه اخیستې ده، د شپږو څخه بیا تر لیکوالانو او شاعرانو پورې هر چا په کې برخه لر لې او د هر چا خوښیږي.

په عمومي ډول د لنډیو لمړی بیت یا فرد ۹ سیلابه او دویم یې ۱۳ سیلابونه دی چې ټول ۲۲ سیلابونه کیږي.

لنډۍ، ټپه یا مصرۍ د پښتو او پښتني کلتور ملی پانګه ده. په ځینو سیمو کې ورته لنډۍ ، په ځینو کې ورته ټپه او بیا په ځینو نورو کې ورته مصرۍاو ټکۍ هم وایي. دا مشهوره لنډۍ د کتلو وړ ده:

ماز دیګر ښه دی دیدن کیږي
ورکه غرمه شه نجلی کور کوي خو بو نه

لنډۍ د احسا سا تو په چو کات کې:

ټپه یا لنډۍ د خپل پیدایښت څخه تر نن ورځې پورې د یوه خاص مفهوم لپاره د یو خاص احساس سره یوځای ویل شوې او ویل کیږي، چې اوریدونکي په وجد او هیجان راولي.

لکه چې د مغلو او انګریزانو سره په جګړو کې دا لنډۍ ویل شویدي:

نن په خیبر د زلمو جنګ دی
خو شحاله پا څه چې مغول راغلي دینه

د انګریزانو د جنګ پر ضد دا لنډۍ د ذکر وړدي:

د اکبر خان غازی په توره

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وطن رڼا شو انګریزان به ماتوینه

د غازی ایوب خان د مېړانې په هکله دا لنډۍ د یادولو وړ ده:

د هندوستان پرنګی ژاړي

که ځوان ایوب په دنیا وي کونډي به شونه

د لوی احمد شاه بابا د عظمت په هکله هم لنډۍ ویل شویدي چې دا یوه یې دلته ذکرکوو:

دا هره مور به زامن راوړي

د احمد شاه په شان به لږ لږ پیدا شینه

د میرویس نیکه وطن پالنه او سر ښندنه هم په لنډیو کې په روښانه ټکو لیکل شویده:

وطن به نن سبا ازاد شي

د میرویس خان لمسیو بیا کړي عزمونه

لنډۍ یا ټپي ځېني وختونه انسانان ژړوي او ځیني وختونه یې خندوي، او کله کله یې په هیجان او احساساتو راولي، چې له سره تېریږي، لکه، د غازی امیر امان الله خان د استقلال غوښتنې په وخت کې دا لنډۍ په ننګرهار کې ډیره عا مه وه،

چیرته لندن چیرته چترال

بې ننګې زور شوه پرنګیان چترال ته ځینه

او یا دا لنډۍ:

په وطن بیا سورې ناري دي

د اما نی لښکرو جوړ کړل قطا رونه

لنډۍ د سوال او ځواب په قالب کې:

لنډۍ کله کله د سوال او جواب په شکل هم ویل شویدي. دا ډول لنډۍ عموماً د دوه مېینا نو ترمنځ د مینې د پوښتنې په شکل یو بل ته ذکر شویدي. چې د ودونو په ساز او سرود کې د دوه هنرمندانو تر منځ په ډیر شوق او ذوق ویل کیږي، **د بېلګې په ډول:**

پوښتنه: د دې مصری ځواب مې را کړه

کور مې د سیند په غا ړه دی له تندې مرمه

ځواب: د دې مصری ځواب دې دا دی

څوک چې مین شي اوبه خوند نه ورکوینه

پوښتنه: د دې مصری ځواب مې راکړه

ګولۍ یوه مر غی مې دوه ویشتلې دینه

ځواب: د دې مصری ځواب دې دا دی

نجلۍ یوه یا ران یې دوه نیولې دینه

په لنډیو کې بدلونونه:

لنډۍ هغه شعر دی چې چې په هر وخت کې په کې بدلو نونه راوړل کیدلې شي او د ضرورت سر سم تغیر قبلوي. ډیر وخت په ودونو کې کله چې سندر غاړي وغواړي چې د واده د کورنۍ غړي خوشاله وساتي نو په لنډیو او مصریو کې د واده والا د کورنۍ د غړو نومونه یادوي، لکه د بیلګې په ډول:

دا نن ښادي د احمد خان ده

سبا ښادي به د جا نان غیږې ته وړمه

د ملنګ جان خواښې لپاره

زه به سندري تر سبا پورې وا یمه

دا نن واده د اکبر خان دی

مبارکې به یې مور او پلار ته ور کومه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لنډۍ او ټپي عمو مآ په ښادیو او خوشالیو کي ویل کیږي په ځینو سیمو کي ښځي د غم په ورځ د مړی په ستا ینه کي هم وايي، لکه دا:

ما دې اوږدي لا ري شمارلي
زه دې د لنډو لارو څه خبره ومه
ما د قیا مت تمه لرله
تا رانه واخیستل په دې دنیا لاسونه
دوستا نو یو له بل جا ریږئ
ما د مجلس یاران لیدل چي خاوري شونه

د لنډیو حماسي برخه:

لنډۍ د پښتو ژبې هغه جا دوګر شعر دی چي ځیني وختونه په ځوانانو کي احسا سات راپاروي او ویني ګرموي او د توري ، میرا نې او بریالیتوب مر حلي ته یې رسوي. او کله چي بیا دا شعر د یوې پښتني پېغلي په خوله او ژبه ویل کیږي، لکه د مېوند د جګړې په ډګر کي چي، ملالۍ مېوندی په دې لنډیو په ځوانان کي جوش او خروش او هیجان پیدا کړ او د بریالیتوب سر حد ته یې ورسول اود انګریز پوځ یې پرې له منځه یووړ:

که په مېوند کي شهید نشوی
خدایږو لا لیه بې ننګی ته دې ساتینه
جانان مې سر په وطن کیښود
په تا ر د زلفو به کفن ورته ګنډ مه
خال به د یار له وینو کیږ د م
چي شینکی باغ کي ګل ګلاب و شرموینه

لنډۍ دمینا نو محبت لپاره هم ډیري ویل شویدي اود میني لنډۍ زیاتره د نجو له پاره منځ ته راغلي دي. په دې ډول لنډیو کي د میني او یاراني اظهارات د محبوبې له پاره ښکا ره شویدی، لکه:

جا نا نه راشه چي پخلا شو
هیڅوک مو نشته مونږ به څوک پخلا کوینه
ځا ی د داغلو پکي نشته
جا نانه څله دا غوې دا غلي زړونه
چي تا ته ګورم ژړا را شي
چي ځا نته ګورم په ما لا ډیر دي غمونه
چي کله کله را ښکاره شي
له زړه مې لېري شي دا یو عا لم غمونه
نه دې د ځان نه دې د بل کړم
د دا دا کور کي دې زړه کړمه ظا لمه

په لنډیو کي د هیواد او وطن مینه هم ډیره ستایل شوې ده , لیکوالانو او شا عرانو پخپل وار په دې برخه کي هم په زړه پوري زیار ایستلی ، او ډیري لنډۍ او ټپي لیکل شویدي. د بېلګي په توګه:

زما نه پاتي شوی وطنه
لکه مرغی په بوټو شپې سبا کومه
وطن د مور او پلاره خوږ دی
د مجبوری له لاسه دری واړه پرېږدمه
وطن مې تن، تن مې وطن دی
د تن په وینو یې ساتم تر څو چي یمه
ز ما نه پاتي شوی وطنه
که چنا رونه دې لونګ شي څه به یې کړمه

د پښتو لنډۍ په هره برخه کي ویل شویدي د وخت د کموالی له امله به همدلته ورته د پای ټکی کیږدو. ډیره مننه!!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ